محمد قسیم ځیر ۲۰۱۸/۰۷/۱۹

بهر میشتي افغانان او افغان دولت

کډوالي د بشري ټولنو منل شوی اصل دی. افغانان هم د کډوالۍ اوږده تجربه لري. په تېرو پېړیو کې د افغانانو مهاجرت اقتصادي او طبیعي لاملونه لرل چې اقتصادي لامولونه یې ډېری وخت پول فکټور(د راجذبول عنصر) او طبعي لاملونو یې د پوش فکټور(پوري وهلو) دنده لرله. د کډوالۍ په اقتصادي لامولونو کې تر ډېره کاري مهاجرتونه ول چې د کار د شرایطو وړ کسان به ګاونډیو هیوادونو او په ځانګړي ډول هند ته تلل؛ که څه هم چې د دې مهاجرتونو دقیقه احصائیه او کافي معلوم سندونه نشته ولې موږ په شفاهي ادبیاتو، د کورنیو په شفاهي تاریخونو کې داسې ډېري بیلګې لرو. ښه مثال یې د د نوموتي هندي لیکوال رابیندرنات ټاګور کابلي والا دی. طبیعي لاملونو کې تر زیاتره وخت وچکالي د کورنۍ مهاجرت لامل شوی ده. په منځنیو پېړیو کې د پښتنو قبایلو مهاجرتونه د جنګي یا سیاسي کډوالۍ(پناه پیداکولو) بله بېلګه ده. د ۱۹ پېړۍ په پیلېدو سره چې په هیواد کې خپل منځي جنګونه شروع شول، ورسره سم، کډوالۍ هم زور واخیست. تر ډېره دغه کډوال افغان شهزاده ګان او د سلطنت داعیان و چې اکثرو یې په هند کې پناه ځای لټاوه. د مثال لپاره یې امیر عبدالرحمن خان دی چې د وخت زیات شمېر سیاستوال یې هند ته تبعید کړل او ځیني په خپله د امیر له ډاره هند ته لاړل. په داسې حال کې چې امیر خپله هم بخارا او روسي ترکستان کې پناه اخیستې وه. کله چې امیر حبیب الله خان واک ته ورسېد د پلار د وخت تبعید شوي یې بیرته راوغوښتل چې دغو راستانه شوو افغانانو د لومړي مشروطیت په نهضت کې فعاله برخه لرله. یو له دوی هم محمود طرزي او د هغه کورنۍ وه. همدارنګه د نادرخان کورنۍ هم په دغو تبعید شوو کې وه چې له هنده بیرته هیواد ته راستانه شول. د استاد ترې د لیکنې په اساس چې اخوند درویزه په تزکره الابرار و الاشرار کې لیکلي, ...افغانانو به چې هر ځای ونیو هلته به دېره شول...،(۱) مګر د ۱۹ پېړۍ په دویمه نیمایی کې داسې نه وه، افغانان کډوال کیدل ولې بیرته یې د خپل وطن د راتګ ارمان او هدف له لاسه نه ورکاوه. بله ځانګړنه چې د نولسمې پېړۍ د اخري او دشلمې پېړۍ د دویمې او دریمې لسیزې مهاجرانو لرله هغه د دوی علمي او سیاسي پختګي وه، همدا وجه وه چې زموږ د مهاجرت په ټول تاریخ کې د نولسمې پېړۍ د اخري او دشلمې پېړۍ د دویمې او دریمې لسیزې کډوالۍ پر افغانستان او د افغاني ټولنه ډېر زیات تاثیر وکړ. د اغتشاش له کبله د هیواد ډېری کادرونه اروپا ته لاړل. چې دا اروپا ته د افغانو مغزونو لومړي فرار و. دوی د امان الله خان په مشرۍ د اماني دولت د بیاځلي قایموني لپاره هلې ځلې پیل کړې چې دا په اروپا کې د افغانانو لومړني سیاسي تحریک و. دا هڅې د هیواد په حالاتو کې اغېزمنې ثابتې شوې که څه هم د یو غیر منظم ګوند په ډول یې کومه ځانګړې سیاسي لاسته راوړنه نه لرله. مرحوم غبار دغه جریان د افغانستان در مسیر تاریخ په دوهم جلد کې په تفصیل سره بیان کړی دی.(۲) د روسانو له یرغله وروسته او د تنظیمي جګړو په پیلېدو سره له هیواده ډېر زیات وګړي کډوالۍ ته اړ شول چې په دې کې متخصص او کارپوه افغان کادرونه هم شامل و. د کرزي صاحب په مشرۍ د مؤقت حکومت په جوړېدو او جوړښت کې بهر میشتو افغانانو ډېره ونډه لرله. ولې سره د دې بیا هم په تخصصي برخه کې بهر میشتو متخصصو افغانانو ته زیاته اړتیا لیدل کیده. د کډوالو د نړیوالې د ادارې د راپورو پر اساس له ۲۰۰۲ نه تر ۲۰۰۶ پورې ۱۵۰۰ افغان متخصصان بیرته هیواد ته راغوښتل شوي دي. له ۲۰۰۷ راهیسې چې په هیواد کې نسبي امنیت هم د هره ورځ زیاتېدونکي جنګ له کبله بې باوره شو له هیواده د فرارېدونکو افغانانو شمېر ډېر لوړ شو چې په ۲۰۱۵ کې خپل اوج ته ورسېد. د شلمې پېړۍ په څیر اوس هم له هیواد د مغزونو فرار ادامه لري چې تر ډېره متخصص افغانان، غربي هیوادونو(اروپا، امریکا او استرالیا) ته کډوالېږي.

اوس چې هیواد له سختو او خونړیو ورځو تېرېږي، د ټولو افغانانو او په خاص ډول د افغان دولت مسولیت جوړېږي چې د بهر میشتو افغان کادرنو د بیرته ستنېدنې، ګمارنې، په بهر کې د افغانستان د بحران په حل کې د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوی د قوتونو په کاروني سره د وطن غم کم کړي او همدارنګه د مسول او ديموکرات دولت په حيث د خپلو اتباعو له حقونو دفاع وکړي .
دا چې بهر ميشتي افغانان په ځانګړي ډول روڼ اندي او پوهان د هيواد په موجوده حالت ځورېږي او غواړي چې د خپل وطن او وطنوالو لپاره کار وکړي، ولې نه پوهېږي چې له کومه ځايه يې پيل کړي او څه وکړي. يو تعداد لوستي افغانان هيواد ته د خدمت په روحيه لاړل مګر د بد امنۍ، فساد او د مناسبې دندې د نه پيدا کيدو له امله بيرته راغلل.
افغان حکومت په کومو برخو کې له بهرميشتو افغانانو سره مرسته کولای شي او څرنګه د هيواد په ګټه د دوی ظرفيتونه کارولای شي؟ په دې برخه کې لاندې پېشنهادونه وړاندې کيږي.

۱: سياسي او ټولنيز اقدامات

۱. الف. څرنګه چې افغانان د جنګ په حالت کې له هيواده وتلي او بله دا چې ډېرې هيوادوال له ګاونډيو هيودانو نور ملکونو ته د درې لسيزو په جريان کې تللي دي نو د دوی دقيق شمېر نه دی معلوم. افغان حکومت دې د بهرنيو چارو وزارت په چوکاټ کې د بهرميشتو افغان کادرنو د تشخيص او بيرته ستنولو لپاره کميټه جوړه کړي چې دا کار ډېر په اسانۍ سره د افغانستان د سفارتونو او قونسلګريو له لارې ممکن دی. په دې سره به حکومت د افغانو متخصصانو د شمېر، اړتيا او ځانګړتياو په اړه کافي معلومات راجمع کړای شي چې پر مټ به يې په هيواد ته د متخصصانو د بيرته ستنېدنې پروسه ګړندې شي بل به په هيواد کې د کارپوه او مسلکي افرادو ضرورت هم تر يوه حده رفع شوی اوسي.
۱.ب. د بهرميشتو افغان فعالانو څخه د يو ملي لابي ګروپ جوړول: له هيواده بهر افغان ډايسپورا ټولنو څخه دې د ملي لابي ګروپ په توګه د افغانستان د ګټو د خوندیتوب لپاره ملاتړ وشي. دا کار په ټولو هغو هيوادونو کې چې ګڼ شمېر افغانان استوګن دي، د افغانستان د سفارتونو له لارې په اسانه ممکن په دې دی چې مخکې له مخکې افغاني لابيزم موجود دی، يواځې همغږۍ او انسجام ته ضرورت لري. په خاص ډول په اروپا، استراليا او د امريکا په متحده ايالتو کې چې د افغانستان مالي او پوځي ملاتړي هم دي.
ياد ملي لابي ګروپ ډېرو برخو کې اغېزمن ثابتېدای شي چې اهم يې دا لاندې څلور برخې دي
۱.ب.۱: بهرنيانو ته د هيواد د روان بحران اصلي انځور وړاندې کول او هغوی له هغو غلطيو خبرول چې پوځيان او دولتونه يې په افغانستان کې مرتکب شوي دي. تر څو د يادو هيوادنو وګړي په خپلو دولتونو باندې فشار راوړي چې افغانستان کې کړې ګناه وې تکرار نه کړي.
۱.ب.۲: د ملي لابي ګروپ دوهمه مهمه دنده به په غربي نړۍ کې د خيريه موسسو، نړيوالو سازمانونو، او مشهور سرمايه دارانو د مرستو راجلبول وي. تر څو له دې لارې به په افغانستان کې ضرورتمنو کسانو سره مرسته هم شوې اوسي او د دولت پر بوديجه به هم فشار کم کړای شي.
۱.ب.۳: ټولو ته معلومه ده چې جنګسالاران د افغانستان د ثبات او پرمختګ په لار کې داسې خنډ دي چې د افغان حکومت وس هم پرې نه رسېږي. هيواد ته د بهرنيو مرستو پر راتګ سره د د اويايمو لسيزو جنګي مجرمان د غربي مرستو پر مټ له جنګي قومندانانو پر جنګي فيوډالانو بدل شول. ياده ډله چې د دولت له خلا پيدا شوې او اوس د ملي او موثر دولت په جوړېدو کې خنډ ده، له بده مرغه د بهرني ملاتړ درلودونکي دي. افغان لابي ډله بايد د دوی بهرنۍ ملاتړ افشاء او د لاريونونو، غونډو، خبري کنفرانسونو، سيمينارونو او د کوربه هيواد له لابي ګروپونو سره د تماس له لارې د جنګي مجرمانو د بهرني ملاتړ په ودرولو سره په افغانستان کې د يو قوي، مرکزي دولت ايجاد او استحکام ته لاره پرانيزي.
۱.ب.۴: ياد فعالان به په منظم او همغږي شکل سره په نړيواله سطحه د هيواد له حيثيته او ملي مسلو دفاع کوي.

۱.ج. د تېرې پېړۍ پېښو او وضيعت له هر اړخيز جاجه وروسته پوهېږو چې افغانانو د ډېر فشار او قربانيو له ورکولو وروسته وطن پرېښودی ، بلکې له وطنه شړل شوي دي. د بهرنيو هيوادونو تابعت هيڅکله د افغانستان د خلکو هيله او موخه نه وه در حالې چې دا د وخت يو اهم ضرورت و. د افغانستان ولسي جرګې د مسودې له مخې دوه تابعته افراد نشي کولای چې د وزيرانو په توګه دنده تر سره کړي. ولسي جرګه بايد يو ځل بيا پر دې بحث وکړي او د وخت د شرايطو په پام کې نيولو سره دې دا پريکړه باطله کړي، ځکه له يوې خوا بهرنۍ تابعت د مجبوريت پراساس منل شوی، له بلې خوا دوه تابعته افغانانو ډېر کلونه په کوربه هيوادونو کې تېر کړي چې هلته يې کورنۍ جوړې کړي او کاروبارونه لري نو نشي کولای چې د متبوع هيوادونو له تابعته لاس پر سر شي.
۱.د. افغان دولت بايد چې د داوطلبو افغان متخصصانو په بيرته ستنېدنه کې لازم تسهيلات برابر کړي. د مثال لپاره هغه افراد چې غواړي په هيواد کې دنده ترسره کړي، له بهرني هيواده بايد ورسره د کار ليکلې ژمنه وشي، د لنډې مودې لپاره دې ورته استوګن ځای برابر شي تر څو دوی د اوسېدنې لپاره دايمي کور پيداکوي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۱. ه. د افغانستان د اساسي قانون د دویم فصل د نهه دیرشمې مادې د دریمې فقرې پر اساس دولت له هیواد څخه بهر د افغانستان د اتباعو د حقوقو ساتنه کوي (۳)
حکومت باید په بهرنیو هیوادنو کې د افغانانو د ټولنو د حمایې او همکارۍ له لارې په کوربه هیوادونو کې د افغان مهاجرانو ستونزې حل کړي. ددې یوه ګټه دا ده چې یادې ټولنې د کډوالو سره نېغه نېغه په نېغه اړیکې لري او د هغوی له ستونزو خبر دي، بله ده چې دوی د کوربه هیوادونو پر قوانینو باندې هم پوهېږي.
۱.و. د رایې ورکولو حق د ډیموکراسۍ له بنسټیزو اصولو څخه دی چې په نړیواله کچه منل شوی. د افغانستان د اساسي قانون د دویم فصل درې دیرشمې مادې د لومړۍ فقرې پر اساس د افغانستان اتباع د انتخابولو او د انتخابېدلو حق لري. هغه افغانان چې له هیواده بهر اوسېږي او د افغانستان تابعت یې نه وي پرېښی؛ باید د ولسمشرۍ په ټولټاکنو کې ونډه ورکړای شي. د نړۍ په ګڼو هیوادونو کې دا حق منل شوی دی چې ښه بېلګه یې سویډن دی. هغه سویډني اتباع چې له سویډنه بهر ژوند کوي د سویډن او اروپا پارلمان په انتخاباتو کې د سفارتونو او یا پوست له لارې ګډون کولای شي. څرنګه چې د افغانستان د نفوسو شاوخوا پینځمه برخه کډوال دي، باید حق ورکړل شي تر څو د خپل هیواد ولسمشر په خپله وټاکي.
۱.ز. لکه چې یادونه وشوه، د افغانستان دولت له افغانستانه بهر د افغانانو دحقونو ساتونکی دی. له بده مرغه ګڼ شمېر هیوادوال په مختلفو هیوادونو کې د بېلابېلو جرمونو په تور نیول شوي او زندانونو کې دي. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او دکډوالو چارو د کمیسون په مرسته باید لومړی ددغو زنداني افغانانو تعداد او د بند ځایونه معلوم او وروسته د راخلاصېدو هڅې پیل شي.

۲. اقتصادي ټکلاره

اقتصاد د انساني ټولې د اساسي رکن په حیث خورا اهم دی. ددې لپاره چې دولت خپل کارونه په اغېزمن ډول ترسره کړي، لازمه ده چې په لومړي سر کې د کډوالو افغانانو د مشکلاتو د حل او د افغانستان په ګټه د هغوی په ګمارنه کې خپل کارونه کټګوري کړي. په اقتصادي برخه افغان کډوال ډېر خنډونه او لوی فرصتونه لري. هغه افغانان چې ایران او پاکستان ته مهاجر شوي، ډېری یې د شدیدې اقتصادي تنګسي لاندې دي؛ بلخوا هغه هیوادوال چې په غربي او پرمختللو ملکونو کې میشته دي، د ښو اقتصادي فرصتونو لرونکي دي. افغان حکومت ته پکار ده چې ددغو خنډنو او فرصتونو په پام کې نیولو سره خپله ستراتېژي جوړه کړي.
د کډوالو افغانانو د اقتصادي ودې او د افغاني اقتصاد په غوړونه کې د دوی د ونډې په اړه لاندې وړاندېزونه کیږي

۲.الف: په افغانستان کې پانګې اچونې ته د بهرمیشتو افغانانو هڅول:
ډېری هغه افغانان چې په بهرنیو هیوادونو کې اوسېږي، د هغو ملکونو د مناسبو اقتصادي شرایطو او د خپلو اوږدو هڅو په پایله کې شتمن شوي دي. د دې شتمنو افغانانو غټه برخه په غربي او عربي نړۍ کې اوسېږي ولې یوه برخه شتمن هیوادوال چې ډېری یې سوداګر دي په پاکستان کې ژوند تېروي. اکثره داسې افغانان په هیواد کې د سوداګرۍ اغېزمنې، عملي کیدونکې او ابتکاري نظریې لري مګر د اوږدې بیوروکراسۍ، فساد او بې امنۍ له امله په افغانستان کې پانګونې ته زړه نه ښه کوي او پر ځای یې په کوربه هیوادونو او متحده عربي امارتو کې خپله سرمایه په کار اچوي. که څه هم چې دا سرمایه دومره زیاته نه ده چې د لویو صنعتي شرکتونو د جوړېدو باعث شي ولې د دې سرمایه لرونکو تعداد ډېر دی. تقریباً هر شتمن هیوادوال د یو میلیون امریکائي ډالرو په ارزښت د وړو کاروبارونو د پیلولو وس لري چې دا د افغانستان جیواکانومیک وضیعت ته په لیدو لوی فرصت دی. د بهرنیو چارو، عدلیې، مالیې او صنعت او سوداګرۍ وزارتونو له غړو څخه دې یو کمیسیون جوړ او د بهرمیشتو افغانانو لپاره دې په افغانستان کې د پانګې اچونې زمینه مساعده او لازم سهولتونه برابر کړی شي. یاد کمیسیون دې د هیواد د سفارتونو په همکارۍ دې په هغو هیوادونو کې چې افغانان میشته دي، په افغانستان کې سرمایه ګزارۍ ته تشویق شي. همدارنګه دې په هیواد کې د پانګې اچونې لپاره لارښودونه جوړ او نشر شي تر څو یو عادي افغان مهاجر پرته له دې چې په دولتي ادارو کې څوک وېېژني یا رشوت ورکړي، کاروبار پیل کړي شي.

۲.ب: په دولتي ادارو او افغان سفارتونو کې د بهرمیشتو افغانانو ګمارنه:
له هیواده بهرهیوادول هم حق او هم دا وړتیا لری چې په دولتي ادارو کې کار وکړي. افغان دولت دې د بهر میشتو افغان کادرنو د ګمارنې لپاره لاس په کار شي. په ټکنالوژۍ او اکاډمیکه برخه کې بهرمیشتي افغانان غټ فرصت دی. ځکه زیاتره هیوادوال چې په پرمختللو هیوادونو کې اوسېدلي، هلته یې عصري زده کړې کړي او د معاصرو اداري سیستمونو سره بلدتیا لري. لکه پورته چې یې یادونه شوې ده، افغان حکومت ته لازمه ده چې لومړی د هغو اشخاصو احصاییه واخلي کوم چې لوړې زدکړې لري او غواړي په هیواد کې دنده ترسره کړي. د هیواد په سفارتونو کې دې داسې میکانیزم جوړ شي چې بهرمیشتي افغانان دخپلو اسنادو او سي ویګانو په تسلیمولو سره په هیواد کې د خپلې خوښې دندې لپاره عریضه وکړای شي او سفارتونه یې بیا له مربوطه ادارو سره شریک کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان په سفارتونو کې باید ګمارنې په موثر شکل وشي. لومړي حق دې بهرمیشتو افغانانو ته ورکړل شي. د دې یوه ګټه دا ده چې بهرمیشي افغانان د کوربه هیواد له قوانینو، کلتور او ژبې سره بلدتیا لري. بله دا چې دوی خپله په هغو هیوادونو کې اوسېدلي وي نو په کوربه هیوادونو کې د میشتو افغانانو له ستونزو ښه خبر وي. دریم ښه والی یې دا دی چې په افغان سفارتونو کې د بهرمیشتو افغانانو ګمارنه؛ له هیواده د راتلونکو مامورانو په نسبت په مراتبو اسانه او کم لګښته ده.

۲.ج: د بهرمیشتو افغانانو عایدات باید دیو منظم اقتصادي سیستم له لارې هیواد ته لاړ شي
سره ددې چې افغانان د جګړې له کبله کډوال شوي دي ولې په عربي او غربي هیوادونو کې ډیری شمېر افغان ځوانان اقتصادی مهاجر هم دي چې د خپله اجوره په هیواد کې خپلو کورنیو ته لېږي. همدارنګه هغه هیوادوال چې د جنګ له امله مهاجر شوي دي هم د خپلو عایداتو یوه اندازه په افغانستان کې خپلو عزیزانو او دوستانو ته استوي چې دا عایدات د افغانستان په اقتصاد باندې خورا مثبت تاثیر لري. د افغانستان دولت دې د خصوصي بانکونو او صرافانو له اتحادیې سره له همغږۍ وروسته هیواد ته د خارج میشتو افغانانو د عایداتو اندازه معلومه او د هغې په رڼا کې دې د هیواد اقتصادي پالیسي تدوین شي. په دویم قدم کې دې دا عایدات چې شاوخوا نیم یې د مرستې په ډول دي باید له مالیې معاف او په کمه بیه هیواد ته ولیږلای شي ولې چې د صرافانو او نورو بانکونو له لارې هیواد ته پیسې لیږل ډیر مصرف لري.

۲.د: د یو خیریه ملي صندوق ایجادول:
لکه چې ټول پوهېږو زموږ هیواد په سختو شرایطو کې دی او له بل هر وخته ډیر مرستو ته اړ دی. ډیری بهرمیشتي افغانان غواړي چې د هیواد سره مرسته وکړي په ځانګړي ډول د معارف او د شهیدانو د وارثانو سره. ولې نه پوهېږي چې څنګه خپلې مرستې په منظم او اغېزمن ډول تر مستحقو افرادو ورسوي. افغان حکومت دې د مالیې، کار ټولنیزو چارو شهیدانو و معلولینو او پوهنې وزارتونو په همکارۍ یو خیریه ملي صندوق جوړ او له ټولو هیوادوالو په ځانګړي ډول له بهر میشتو افغانانو دې د مرستې غوښتنه وشي. زکات، د فطر صدقه او نورې مرستې دې ددې صندوق له لارې تنظیم او وویشل شي. دا شاید ایتوپیایي او خیالي ښکاره شي مګر دا ممکن او ډیر اسانه په دې دی چې له یوېخوا به دولتي اعتبار ولري له بل پلوه به دا مرستې په قانوني شکل اړمنو ته ورسېږي. بله دا چې بهرمیشتي افغانان به د خپلو بانکي حسابونو له لارې په ډیرې اسانۍ سره پیسې ولیږلای شي. ددې صندوق لپاره دې د عضویت پاڼه جوړه او د هر غړي له عایده دې د هغوی په خوښه پیسې واخیستلای شي. د بېلګې په ډول د میاشتنۍ تنخوا دوه سلنه یا هره میاشت شل ډالره. دا مرستې به دورکونکو پر اقتصاد هیڅ منفي تاثیر و نه کړي ولې په هیواد کې به مو پرې د ډیرو اړمنو ضرورت رفع کړی اوسي.

۳. علمي او فرهنګي ټکلاره

لکه پورته چې یې یادونه وشوه، پرمختللي نړۍ ته د افغانانو تګ دا ګټه وکړه چې زموږ هیوادوال له معاصرو پدیدو سره بلد شول. ډیری افغانانو په بهرنیو هیوادونو کې زدکړې وکړې او د هغو هیوادونو له کلتوري او ټولنیزو چارو په پېژندلو سره د افغانستان په فکري او فرهنګي وده کې د یو نوي تحریک د پیل کیدو باعث شوي دي چې اغېز یې په ټولنیزو رسنیو کې له ورایه ښکاري.

۳. الف: په هیواد کې د اکاډمیک قشر د غوړوني لپاره دې په بهرمیشتو هیوادونو کې له موجوده پوتنشیله استفاده وشي. ډیری افغان پوهان او مختصصان چې په افغانستان کې زده کړې کړي نن هم د کار په سن کې دي او کولای شي هیواد ته د خدمت مصدر وګرځي. د دې سره یو نوی نسل چې له افغانستانه بهر لوی شوی او معاصرې زده کړې لري غواړي په خپل هیواد کې دنده اجراء کړي. دا افغانان د ټکنالوژۍ او ساینسي علومو په برخه کې د هیواد د خصوصي او دولتي پوهنتونونو لپاره د یو غټ چانس په توګه ثابتېدای شي. افغان حکومت دې هغوی ته چې په رسمي ژبو کې ستونزې ولري د ژبې کورسونه برابر کړي.

۳.ب: لکه څرنګه چې هیواد له ادبي او علمي پلوه هم له خپلو سیالانو وروسته پاتې دی او له بل هر وخت ډیر له نورو ژبو ژباړې ته ډیره اړتیا محسوسېږي. د افغانستان دولت دې په ځانګړي ډول د لوړو زده کړو وزارت، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د افغانستان د ستراتېژکو مطالعاتو مرکز، د علومو اکاډمۍ او کابل پوهنتون په همکارۍ او همغږي دې د دنړیوالو او معاصرو اثارو د ژباړې اړتیا او لومړیتوبونه تشخیص او له هغې وروسته دې د بهرمیشتي افغان لیکوال د دې اثارو ژباړې ته تشویق شي. بهرمیشتي افغان لیکوال په ځانګړي ډول استرالیا، د امریکا متحده ایالتونو او اروپا میشتي افغان لیکوال په دې برخه کې ډیر اغېزمن په دې ثابتېدای شي چې دوی له یوې خوا د پرمختللو هیوادونو له ژبو سره بلد دي له بلې خوا د یادو هیوادنو په فرهنګي ابعادو هم پوهېږي چې پخپله د اغېزمنې ژباړې باعثېدلای شي بل به زموږ ژبې هم د ګاونډیو ژبو د ژباړې له انحصاره وتلې وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۳.ج: افغان دولت د افغانستان د ټولو اتباعو پر وړاندې مسوول دی؛ هغه که د هیواد په دننه کې دي یا له هیواده بهر. د موقت حکومت په جوړېدو سره افغانستان ته له نورو مرستو سره سره تحصلي برسونه هم ورکول کیدل چې ډیر یې د هند لخوا و. افغان دولت ته پکار ده چې په دې تحصلي برسونو کې د کډوالو برخه هم بېله کړی. البته دا بورسونه باید یواځې په پاکستان او ایران کې کډوالو افغانانو ته ورکړل شي ولې چې هغوی تحصیل ته لاس رسی نه لري. په دې سره به افغان دولت د کډوالو افغانانو په وده کې هم برخه اخیستي وي او هم به مو نوی افغان نسل د هیواد پالنې په روحیه رالوی کړی اوسي.

۳.د: له ۲۰۱۵ راهیسې په اروپا کې د افغانانو شمېر د ملاحظې وړ ډیر شوی دی. افغان دولت په خاص ډول د اطلاعاتو او کلتور او پوهنې وزارتونو ته پکار ده چې کډوالو افغان ماشومانو ته پښتو او دري کتابونه راولېږي. په ځانګړي ډول په استرالیا، امریکا او اروپا کې. د اروپایي هیوادونو په دولتي کتابتونونو کې په پښتو او دري کتابونه پیدا کیږي ولې زیاتره یې تحلیلي او په لوړه سویه دي. کوم کتابونه چې د ماشومانو لپاره لیکل شوي دی افغان ماشوم ته پکې د افغانیت او د افغانستان سره د اړیکې روحیه نه ورکول کیږي. ددې لپاره چې په غربي او عربي نړۍ کې رالوېدونکي افغان ماشومان، افغانان پاتې شي حکومت دې تر هر څه زر په دې اړه لاس په کار شي.

۳.ه په بهر کې دې د افغانستان سفارتونو او قونسلګریو ته هدایت وشي او دا امکان دې ورکړل چې ملي او مذهبي جنشنونه په شاندارو مراسمو او د ډیرو افغانانو په رابللو سره تجلیل کړي. ددې ګټه به دا وي چې په بهر کې افغان ماشومان به له خپل کلتور څخه خبر شي بل به د افغانستان سره د دوی اړیکې و نه شلېږي.

پایله

د کډوالو او راستنېدوکو چارو وزارت د شمېرو له مخې تقریباً شپږنیم میلیونه افغانان کډوال دي (۴)چې دا د افغانستان د نفوسو پینځمه برخه کېږي. یانې په هرو پینځو افغانانو کې یو تن کډوال دی. نن هم افغانان له سوریې وروسته د نړۍ د کډوالو دویمه غټه ډله ده. د افغانستان دولت مسولیت لري چې د هیواد د منابعو او امکاناتو پینځمه برخه د کډوالو لپاره بېله کړي. لومړیتوب دې د پاکستان او ایران میشتو کډوالو ته ورکړل شي ولې چې هغوی ډیر مستحق دي اما دولت دې لکه په دې مقاله کې چې یادونه شوې د اروپا، امریکا او استرالیا میشتو افغانانو ته هم لازمه توجو وکړي ځکه چې دوی د افغان کډوالو شپږمه برخه ده. د کډوالو او راستنېدوکو چارو د وزارت د ارقامو له مخې شاوخوا ۱،۲ میلیونه افغانان په اروپا، د امریکا متحده ایالتونو او استرالیا کې اوسېږي. که څه هم چې د افغانستان موجوده وضیعت ته په کتو له هیواده بهر د دومره غټ شمېر مهاجرانو اوسېدنه د هیواد په ګټه نه ده. د دوی په بیا میشته کوونه کې ډیر خنډونه دي ولې بیا هم افغان مهاجران د افغانستان لپاره په مختلفو برخو کې د لوی فرصت په حیث دي. په ځانګړي ډول هغه افغانان چې بهر یې زده کړې کړي د هیواد لپاره ډیر په درد خوړای شي چې په دا تېرو ۱۶ کلونو کې هم ثابته شوه. همدا نن هم زموږ ریس جمهور، د کابینې وزیران، د وزارتونو معینان او نور ډیر شمېر کارکوونکو په بهر کې زده کړې کړي او اوسېدلي دي.

اخذونه

۱: پوهاند دوکتور حبیب الله تږي، پښتانه او مهاجرتونه، افغان ادبي بهیر،چهارشنبه ۱۷ لړم ۱۳۸۵هـ ش
د لوستلو نېټه:ز ۲۰۱۸| ۰۷| ۱۷

http://www.baheer.com/baher/modules.php?name=News&file=print&sid=851۲

۲: غبار، میر غلام محمد، افغانستان درمسیر تاریخ، لومړی چاپ، دوهم ټوک، انتشارات جمهوري، تهران،ز ۱۹۹۹.

۳: د افغانستان اساسي قانون، په رسمي جریده کې د خپرېدو نېټه : د ۱۳۸۲هـ ش کال د سلواغې اتمه، پرله پسې ګڼه:۸۱۸

۴: د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت رسمي ویبپاڼه، احصایه ها، د لوستلو نېټه: ز ۲۰۱۸|۰۷| ۱۸

http://morr.gov.af/fa

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ